# POST MODERNISM, IN THE PERSPECTIVE OF SOCIAL AFFAIRS

# مابعد جدیدیت: د ټولنيز صورتحال تصوير

Dr. Asal Marjan*

**ABSTRACT:**

Post Modernism in the Social Sciences is the name of a point of view that shows us more progress and development in all the social affairs than the modern or modernism era. In such an advanced situation, Human being does not have much faith and scientific and logical ideas and thoughts. Because in such a situation, the traditional narratives have failed to explain miserably these developments and in it's the Human problems.

In this article has been made a comprehensive assessment of the post-modern situation and an attempt to develop it's a comprehensive picture.

**Key words:** Modernity, Post Modernism, Situation, Enlightenment, Meta narrative, Humanism,Consumerism

جدیدیت او مابعد جدیدت دوه بېلابېل دورونه دي خو وړومبے د يو غورځنګ په څېر راڅرګند شوے دے ، ولې دویم بیا د صورتحال په رنګ کښې مخې ته راغلے دے او د دواړو ترمنځه بېلتون هم په دغه نکته کښې پټ دے ، که څه هم دواړه په ګرده نړۍ کښې د کلتوري او ټولنيز طرز عمل په بدلون باندې اغېزه لري۔ مابعد جدید یوه داسې اصطلاح ده چې کلتوري رجحانات او کلتوري غورځنګونه په خپل ځان کښې رانغاړي او په عامه توګه دا د جدیدیت د زمانې پېروي خو کوي۔ (۱) ، ولې د دغه پېروي په ترڅ کښې چې کوم صورتحال مخې ته راځي ، هغې ته مابعد جدیدیت وئیلے کېږي۔

خو په ټولنيزو علمونو کښې مابعد جدیدیت یو داسې نقطه نظر دے کوم چې مونږ ته په ټولنيزو چارو کښې د جدید یا جدیدیت د دور نه پس د ډېر وړاندې تګ/ پرمختګ

* Bacha khan Study Centre, Bacha Khan University Charsada

څرګ راکوي چې په داسې صورتحال کښې انسان په ساینس او منطقي خیالاتو زیات باور نه لري ځکه چې نور روایتي مها بیانیې د دغه پرمختګونو کوم مناسب وضاحت کولو کښې ناکامه شوې دي. (۲) مابعد جدیدیت په اړه د بېلا بېلو خلقو بېل بېل نظرونه دي. ځینې دا د جدیدیت ضد بولي. خو دا د جدیدیت (چې د روښان فکرۍ پروجېکټ او د سارتر د وجودي فکر نه رغونه مومي) د وجودي فکر ضد خو بېخي نه دے ، البته د روښان فکرۍ د پراجېکټ سره که ضد نه دے خو د ناهیلۍ او بېزارۍ اظهار ترې خامخا کوي. خو د دې دا مطلب هم نه دے چې مابعد جدید کښې د جدیدیت د روښان فکرۍ د پروجېکټ توکیو نه یومخ ډډه ده. که په غور وکتے شي نو مابعد جدیدیت کښې د جدیدیت څه توکي شتون لري.

په بنیادي توګه شخړه د ساینس او مها بیانیو (Meta Narratives) تر منځه روانه ده. بیانیې یا مها بیانیې تل ساینسي علم او تجربو ته بدعتونه وئیلي دي ، بد یې ګڼلي دي ، د روایاتو په ضد یې بللې دي او کله کله یې غېر مذهبي یا کفري ورته هم وئیلي دي. بل خوا ساینس بیانیه یا مها بیانیه ته د روایتي ، قدامت پرستۍ ، جهالت او نیم وحشي په شان نومونه ورکړي دي . (۳) د کلاسېکي دورې غټو (مها) بیانیو (عقیدو) تصور د جدیدیت یوروپي پروجېکټ مات خو نه کړے شو ، ولې دومره کار یې ضرور وکړو چې د عقیدو په اساس د جوړو شویو غټو بیانیو ځاے د نظریو په اساس غټو بیانیو ونیولو. د اشتراکیت (Communism) او پانګوالۍ (Capitalism)نظریو ته ځاے او رواج ورکړے شو چې پېژندل یې اسان وو ، تجزیه کول یې څه ډېر ګران نه وو او پایلو (نتیجو) ته پکښې رسېدل یې د عام وګړي په وس کښې وو. بل خوا که مونږ په مابعد جدید صورتحال کښې د جدیدیت د روښان فکرۍ غټو بیانیو ته پام وکړو نو هغه هم د لرتیا (شکست) سره مخ شوې دي. لیوتارد د روښان فکرۍ د پروجېکټ تر مخه د وضع شوې غټې بیانیې دوه خوبونو ته اشاره کړې ده: اول د انسان ازادي او خپلواکي (چې د فرانسوي انقلاب نه ماخوذ بلل کېږي) بل د بشري علومو یا بشري وحدت او بشر دوستۍ (Humanism) خو دا دواړه خوبونه مونږ ولیدل چې د جدیدیت د دور غټو بیانیو (اشتراکیت او سرمایه دارۍ) نیمګړي پرېښودل. بشر یو ځل بیا د لرتیا (شکست) سره مخ شو ، طاقت د زورو په لاس کښې هم هغه رنګ پاتې شو او کومې سم لاسي کامیابۍ/پایلې یې ور نه کړې. (۴) په ادبي اصطلاح

کښې مېټا نېرېټيو يوه ستره قيصه ته وايي ـ په لنډو ټکيو کښې دا د هر هغه څيز وضاحت کوي چې په ټولنه کښې رامخته کېږي ـ په ټولنپوهنه کښې مېټا نېرېټيو د يوې اعلی درجې نظريې،، يا د نظريو د پاره کارولے شي ـ خو په يورپ کښې شا و خوا اويا کاله وړاندې او پښتنه ټولنه کښې د تېرو دېرشو کالو نه پس يو داسې دور راغے چې غټو بيانيو پکښې سر وخوړو او د هغې په ځاے وړو وړو بيانيو ته رواج ورکړے شو ـ که مونږ وګورو نو پښتونولي يوه غټه بيانيه (Meta Narrative) ده چې د پوره نظام د پاره اصول وضع کوي او د ژوند د تېرولو د پاره خپلې قاعدې لري چې د پښتو،، په وسيله يې مونږ ترسره کوو ـ دغه کښې د سړيتوب معيار ټاکل يا بيا د سړي او نه سړي ، د غېرتي او دله ترمنځه د جنګ قيصه چلېږي ـ نن مونږ وينو چې د غېرت تصور بدلېږي ـ د پښتونولۍ هغه معيار بدلېږي کوم چې پرون يا پنځوس يا سل کاله پخوا وو ، د حجرې ، کلي کلوېغي ، کاروباري مصروفيت او صارفيت قيصې په تېزۍ سره مخ په وړاندې دي ، د سياسي ګوندونو غټې غټې او ښکاره نظريې په وړو وړو او عادي ژوند ستونزو ته راوګرزېدې ـ دا هر څه د غټې بيانيې په ضد روان عمل دے چې د مابعد جديد صورتحال ښکارونه کوي ـ د لېوتارد د تعريف ترمخه د غټو غټو بيانيو نه انکار کول اصل کښې مابعدجديديت دے ـ په بله معنا د انساني ترقۍ او عروج د پاره جوړې شوې غټې بيانيې نن خوزېدلې راخوزېدلې دي او د زمانې ټولنيز پرمختګ ته ټينګېدے نشي نو اوس ځکه د وړو وړو او لنډمهاله بيانيو رواج دے چې د زمکني حالاتو په رڼا کښې د يو خاص ټولګي د ګټو په اساس جوړېږي ـ دا هم وئيلے شو چې مابعد جديديت د روښان فکرۍ د بنسټيز تصور رد تشکيل کوي چې د تاريخ خاتمه ورته هم وئيل کېږي ـ (۵) د مابعد جديديت يو بل نامتو مبلغ ژان بودغياغ ترمخه ننني ژوند په لويه کچه د فلم ، ټي وي او اشتهار په اثر کښې راغلے دے چې د حقيقت يا د رښتياؤ د تصور او د نظر د ټګۍ (فرېب) او د ژوروالي او درګوالي (سطحي) توپير يې له منځه وړے دے او يو داسې کلتور ته رواج ورکړے شوے دے چې د حقيقت نه لري (Hyper reality) ورته وئيلے کېدے شي ـ (۶) يو خوا دغو بيانيو/تهيوريو/نظريو د بشر په ستونزو کښې کوم خاص کمے رانه وستو او د يويشتمې پېړۍ درشل ته د هغو زړو ستونزو سره ورنزدې شو ـ بل خوا په دغه دوران کښې سائنسي پرمختګ خپلې وزرې داسې پرانستې چې ټولنه يې د يو درز سره په بل مخ واړوله ـ نړۍ يې

په رسنیزه ټولنه (Media Society) یا بیا نندارچي ټولنه (Spectacle Society) کښې بدله کړه ـ سوداګرۍ د نوو نوو طور طریقو سره د صارفیت/اخستونکي (Consumerism) نوي شکلونه رامخې ته کړل ـ دارنګې کمپیوټري ذهن د علم نوعیت او ضرورت بدل کړو ـ دغه ټول بدلونونه او د نوي کلتوري کچه د پاره که یوه اصطلاح کارول کېدے شي ـ نو هغه مابعد جدیدیت کېدے شي ـ دغه صورتحال په اړه لیوتارد د درې ځیزونو په اړه د غور کولو امر کوي ـ وړومبے د کمپیوټري ژبې اهمیت ، لکه د بېلا بېلو پروګرامونو د پاره کمپوټري ژبې ترتیبول ، دویم د علم د خرڅېدنو او اخستنو عمل او دریم علم ټول د برقي ذهن سره سمول ـ (۷) مقصد په یوې ټولنه کښې په تېزۍ/تندۍ سره بدل شوے حالت ، د نوې ټولنې مزاج ، ستونزې ، ذهني رویې یا په ټولنیزه او کلتوري کچه راغلي بدلونونه چې د بحران شکل یې موندلی وي ـ څنګه چې جدیدیت ته د وجودي فکر فکري اساس ترلاسه وه چې د ټولنې په ځاے یې په وګړي زیات زور راوړو او د مرکزیت په ځاے یې تکثریت ته لاره پرانستله چې په پایله کښې یې وګړي په یو بل بې باوره کړل ، بې اعتماده کړل او یو بل ته د نزدې کېدو په ځاے یو بل نه لرې کېدو او بېل بېل کېدو چې ګټه یې د روښان فکرۍ پراجېکټ نه راشروع شوې پانګوالۍ (سرمایه داریت) ته ورسېده ـ ښخي دارنګې قبضه ګرې پانګوالۍ (Colonial) چې په ګټندوي (Financial) پانګوالۍ بدلېده زیات قومیز (Multi National) کارپورېشنز ، نړیوال بانک ، نړیوال ګټندوي فنډ (International Monetary Fund) ، نړیوال سوداګري ټولنه (World Trade Center) په شان اداري په وچ زور د نړۍ په منډیو (Markets) قبضه واچوله ـ نوې رسنۍ(Modern Media) کمپیوټر ، نېټ ، موبایل او سائبر سائنس ، ټولنیزې رسنۍ(Social Media) مخې ته راغلل ، مقصد دا چې د نړیوال تاریخ تګ د پایې (Wheel) او مشین په ځاے اوس د چیپ (Chip) او لېزر (Laser) په وسیله شونے شو ـ (۸) دارنګې که مونږ د بایوټېکنالوجي پرمختګ په نظر کښې ونیسو او د کلوننګ دور ته ورننوځو چې د کرکرونديې ، طب ، چاپېریال ځانګې یې زیاتې اغېزمنې کړې دي ـ (۹) د پرمختګ په نوم چې دا بره ذکر شوے صورتحال کوم کلتور رامخې ته کوي ، مابعد جدید د دغې صورتحال د کلتور د مطالعې نوم دے ـ د دغه صورتحال سره بشري ژوند تېز خو ډېر شو ، ولې خوندي ښخي نه شو ـ د ډېرو اسانتیاؤ باوجود ګران شو ـ د ډېرې لویې ابادۍ سره هم یوازیتوب ته ورته شو ـ دغه ټول توکي چې

سره راټول شي ، هغې نه یو صورتحال جوړ شي ، په دغه صورتحال کښې چې بشر کومې هلې ځلې کوي ، هغه د دغې صورتحال نمایندہ کلتور باله شي چې څیړنې او کتنې د پاره یې په ادبي تناظر کښې د مابعد جدید اصطلاح غوره شوې ده. که څه هم د ځینو مفکرینو په خیال مابعد جدیدیت باقاعده د ژان پال سارتر د وجودي فلسفې (چې ادب کښې د جـدیـدیت پـه نامه یـادېږي) په ضد د یوې تهیورۍ یا نظریې په شکل کښې ودرول غواړي.(۱۰) لکه ډاکټر ناصرعباس نیئر یې چې په یو وخت صورتحال او تهیوري (نظریه) ګڼي. صورتحال نه مراد دوي د شلمې پېړۍ د اخرنۍ برخې کلتوري صورتحال او د تهیوري نه مراد بیا جدیدیت د روښان فکرۍ پروجېکټ او د ساختیاتي تنقید او په ۱۹۲۸ کښې د فرانسوي زده کوونکیو بغاوت او په الجریا د فرانسه بریدونه ګڼي. (۱۱) خو دوي چې کومه تهیوري د مابعد جدید په شا وړاندې کوي ، هغه اصل کښې د ساختیاتي مفکرینو تهیوري یا نظریه ده کومې ته چې ناصر عباس نیئر بره اشاره کړې ده. مابعد جدیدیت نه د ترقي پسندۍ ضد دے او نه د جدیدیت ، اصل کښې دا د بېلابېلو نظریو د خپلولو او جهتونو د پرانستلو رویه ده. د تخلیقي ازادۍ ، په خپل کلتوري تشخص په باندې ټینګار کولو ، د ټکیو معنوي بندېزونه ماتولو ، د مسلماتو په اړه د نوي سره غور او فکر کولو رویه. (۱۲) ځکه یې کوم کوټلے فارمولاتي تعریف شونے نه دے. دا د ساختیت ، تانیثیت ، نوي تاریخیت او رد تشکیل په رنګ فلسفو او د اشتراکیت او سرمایه داریت په شان نظریو ته هم ځاے ورکوي. دا د غټو او عالمګیرو مهابیانیو نه سربېره وړو بیانیو او مقامي روایتي وسیلو او ستونزو ته زیات اهمیت ورکوي. مابعد جدید هر لیکوال او فنکار ته اجازه ورکوي چې هغه د خپل اظهار د پاره هر کوم اسلوب (ساده ، روایتي ، استعاراتي ، علامتي ، تجریدي) کارولے شي. دا د هر قسم ټولنیز ، سیاسي او ریاستي او فني جبر لاره نیسي. (۱۳) د مابعد جدیدیت کوم کوټلے تعریف کول به ژوند حرکت او حرارت نه محروم کول دي. د دې په ترڅ کښې ټول علمونه او فنون د بحث لاندې راوستے شي. د شاعرۍ نه تر افسانوي ادب او د بشریاتو د مطالعې نه واخله تر مذهب او فلسفې پورې او د تعمیر د فن نه واخله تر انځورګرۍ پورې یې د اثر لاندې دي. دا د یوې معنې ، د یو مفهوم ، د یو چوکاټ نه ځان وباسي او په ډېرو د ور ننوتو په هڅه کښې وي.

# References


۱. https://en.m.wikipedia.org/wiki/Category:Postmodern_theory
۲. https://www.tutor۲u.net/sociology/topics/postmodernism
۳. لیوتار ،فرانکو ایس ، جین ، مابعد جدید صورتحال ، مترجم: واجدعلي واصف ، لاهور ، عکس پبلیکیشنز ، ۲۰۱۸، ص:۱۳
۴. .......... مشموله: تنقید کی جمالیات(جلد ۵)،مرتب: پروفیسرعتیق الله،لاهور ،فکشن هاؤس ، ۲۰۱۸ ، ص:۲۹۲)
۵. بنیادي تنقیدي تصورات: ۱۰۰
۶. بنیادي تنقیدي تصورات: ۱۰۰
۷. نارنک ،کوپی چند ،مابعدجدیدیت عالمي تناظرمین ،مشموله: تنقید کی جمالیات(جلد ۵) ، ص:۲۸۹
۸. روش ندیم۔قبل جدید سے مابعد جدیدیت تک ، تنقید کی جمالیات (جلد ۵) ص: ۳۴۰)
۹. وګورئ : د پروفېسر طفېل ډهانه کی کتاب "مابعد جدید امپریلزم" چاپ فکشن هاوس لاهور ، ۲۰۱۴
۱۰.قیصرالاسلام ، قاضی ، تاریخ فلسفه مغرب (جلد دوم) کراچی ، نیشنل بک فاوندیشن ، ۲۰۰۵، ص:۵۷۲
۱۱.نیئر ، ناصر عباس ، جدید او مابعد جدید تنقید ، کراچی ، انجمن ترقی اردو ، ۲۰۰۴، ص:۱۹۱
۱۲.ډاکټر فهیم اعظمي،مابعدجدیدیت،برصغیرکی ثقافت اور ادب،مشموله: مابعد جدیدیت، ص:۲۷
۱۳.الطاف انجم ، ډاکټر ، اردو مېن مابعد جدیدیت ، لاهور ، عکس پبلیکېشنز ، ۲۰۱۸، ص ص: ۱۰۹-۱۰۸